**د فلسطین او بندي اقصی ازادول او د غزې چیغو ته لبیک ویل، د خلافت تر تاسیس پورې مه ځنډوئ!**

(ژباړه)

هر امت په خپل مسیر کې له یو لړ ستونزو سره مخ کېږي او د ستونزو حللارې یې باید له عقیدې څخه سرچینه واخلي. اسلامي حللارې، یعنې شرعي احکام او شرعي قاعده وايي: «په عملونو کې اصل دا دی، چې د شرعي حکم پر اساس ترسره شي»؛ ځکه الله سبحانه وتعالی دین بشپړ کړی دی. اسلام ټولو ستونزو ته ځواب وايي او د هرې ستونزې حللاره لري. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿**وَنَزَّلْنَا عَلَيكَ الْكِتَابَ تِبْياناً لِّكُلِّ شَيءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ**﴾ [نحل: 89]

**ژباړه:** *«موږ دغه (اسماني) کتاب پر تا نازل کړی چې د هر څه (د خلکو د اړتیا وړ د دین چارې) بیانوونکی، د هدایت وسیله، د رحمت سرچینه، او د مسلمانانو لپاره (د نعمت په اړه) زېری رسوونکی دی.»*

د فلسطین د ازادۍ، د خلافت دولت د تاسیس، د في سبیل الله جهاد، د مسلمانانو د نصرت او له خپلو خاورو څخه د دښمنانو د شړلو په فرضیت کې هېڅ شک نشته. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿**وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيكُمُ النَّصْرُ**﴾ [انفال: 72]

**ژباړه:** *«که چېرې (مومنان د نورو د ظلم او زیاتي له امله) د خپل دین په سبب له تاسو څخه مرسته وغواړي، پر تاسو یې مرسته کول واجب دي.»*

د دغو فرایضو د ډلبندۍ په وخت کې ممکن یو شمېر مسایل سره ګډوډ شي، فکري اندېښنه رامنځته شي او خلک له سمې حللارې منحرف کړي. نو د موضوع د لانبه وضاحت لپاره باید مسایل سم تفکیک شي او لازمه ده چې واقعیت په غور سره وارزول شي او د احکامو د پلي کېدو شرایط وپېژندل شي؛ ترڅو شرعي حکم په خپل ځای کې پلی شي.

خلافت تاج الفروض دی؛ چې د ټولو مسلمانانو رهبري پر غاړه اخلي، د دین ساتنه کوي او دنیا یې د الهي شریعت په واسطه سیاست کوي. خلافت د خپل قدرت په واسطه د اسلام د قلمرو ساتنه کوي، مسلمانانو ته تر خپل بیرغ لاندې یووالی او نړیوال قدرت او ځواک ورکوي. خلافت د الله سبحانه وتعالی په لار کې جهاد اعلانوي، اشغال شوې خاورې ازادوي، د وینو او مالونو ساتنه کوي او د بندګانو ګټې او مصلحتونه خوندي کوي.

الله سبحانه وتعالی په هر ډول شرایطو کې پر ټولو مسلمانانو د خلافت دولت تاسیس فرض کړی دی؛ نو پر هر مسلمان لازمه ده چې د تاسیس لپاره یې فعالیت وکړي. یوازې خلافت دولت امت له ډوبېدو او بدمرغۍ څخه ژغورلی او بېرته په هغه غوره امت بدلولی شي، چې د بشر د لارښوونې لپاره پیدا شوی. د امام مسلم رحمه الله

په سنن النووي شرحه کې د «کتاب الامارة» په برخه کې راغلي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«اِمَام جُنة يُقاتَل مِن وَرائِهِ وَ يُتَّقَی بِه»**

**ژباړه:** *امام هغه ډال دی چې تر شاه یې جګړه کېږي او هغه ته پناه وړل کېږي، ترڅو د دښمنانو له ظلم څخه وژغورل شي.*

الإمامُ جُنَّة؛ امام د ډال په څېر دی، چې پر مسلمانانو باندې د دښمنانو د ظلم او زیاتي پر وړاندې درېږي، په امت کې د لويو ستونزو مخه نیسي او د اسلام د قلمرو ساتنه کوي. همدارنګه د امام په واسطه خلک ساتل کېږي، له اقتدار څخه يې وېرېږي او "يُقَاتَلُ مِن وَرَائِهِ"، په دې معنا چې کفار، باغیان، خوارج، مفسدين او ظالمان په مطلق ډول له هغه سره جنګېږي.

د جهاد په فرضيت کې شک نشته. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿كُتِبَ عَلَيكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ﴾** [بقره: 216]

**ژباړه:** *«جګړه پر تاسو فرض شوې ده، په داسې حال کې چې (د انساني طبيعت په سبب) تاسو ترې بېزار یئ.»*

جهاد په شرعي صطلاح کې "د اعلای کلمة الله لپاره له کفارو سره جګړه" ده. جهاد په دوه ډوله دی: تعرضي جهاد، چې د خاورو د فتحې او د اسلام د خپراوي لپاره کېږي او بل دفاعي جهاد، چې د مسلمانانو په خاورو کې د شته دښمن د ایستلو لپاره کېږي. دواړه جهادونه فرض دي او یو امیر او علی سرقومندان ته اړتیا لري، چې پوځونو ته امر وکړي او اطاعت يې وشي؛ توپير نه کوي چې دغه امیر دې د اوسني وخت د حکامو غوندې د دولت-ملت حاکم وي او یا دې د مسلمانانو خلیفه وي. همدارنګه جهاد په مدينه منوره کې د دولت تر تاسيس وروسته د الله سبحانه وتعالی په دغه قول سره فرض شو:

**﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ﴾** [حج: 39]

**ژباړه:** *«هغو کسانو ته (له ځانه د دفاع) اجازه ورکول کېږي چې پر هغوی جګړه (تپل) کېږي، ځکه چې ظلم پرې شوی (او هغوی له اوږدې مودې راهیسې د ظالمانو د ظلم پر وړاندې زغم کړی او د زړه وینې یې خوړلې دي) او الله دا وس لري چې هغوی بریالي کړي.»*

خو په مکه مکرمه کې د دولت تر تاسيس وړاندې مسلمانانو ته امر وشو، چې د دښمنانو له ځورولو لاس واخلي. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّواْ أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً﴾** [نساء: 77]

**ژباړه:** *«ایا نه وینې (اې محمد صلی الله علیه وسلم) هغه کسان چې (د جګړې تر اجازې وړاندې به یې د جګړې لپاره لېوالتیا درلوده) دوی ته به ویل کېدل: (د جهاد وخت نه دی رارسېدلی) له جګړې لاس واخلئ، لمونځ وکړئ او د مال زکات ورکړئ (په نبکاره یې ببره کوله او هېڅ ته یې غوږ نه نیوه). خو کله چې پر دوی جګړه واجب شوه (د جهاد امر ورته وشو) هغه مهال یو شمېر کسان له خلکو څخه داسې وډار شول، چې یوازې له الله څخه باید وېربدلی وی! ان تر دې هم زیات ډار او وهم واخیستل.»*

جهاد به د قیامت تر ورځې دوام ولري او هېڅوک یې ځنډولی نه شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«الجَهادُ وَاجِبٌ عَلَيكُم مَعَ كُلِّ أمِيرٍ بَرًّا كَانَ أو فَاجِرًا»**

**ژباړه:** *که امیر مو نېک وي یا فاجر، خو جهاد درباندې واجب دی.*

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«وَالجَهَادُ مَاضٍ مُنذُ بَعَثَنِيَ اللَّهُ إلَى أن يُقَاتِلَ آخِرُ أُمَّتِي الدَّجَّال»**

**ژباړه:** *د الله لخوا پر پیغمبرۍ زما له مبعوث کېدو راهیسې به جهاد دوام کوي، تر هغه وخته چې وروستی امت مې له دجال سره جګړه وکړي.*

هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**«إذا تَبَايَعتُم بِالعِينَةِ، وَ أَخَذتُم أذنَابَ البَقَرِ، وَ رَضِيتُم بِالزَّرعِ، وَ تَرَكتُم الجَهَادَ، سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيكُم ذُلًّا لَايَنزِعُهُ حَتَّى تَرجِعُوا إِلَى دِينِكُم»**

**ژباړه:** *کله چې پېر او پلور پیل کړئ، د غواګانو پر ساتلو بوخت شئ، په کرنه راضي شئ او جهاد پرېږدئ. الله سبحانه وتعالی پر تاسو ذلت واکمنوي او ترڅو چې خپل دین ته ونه ګرځئ، هغه نه درڅخه لرې کوي.*

پر همدغه اساس د راشده خلافت د تاسیس لپاره فعالیت، له جهاد سره په ټکر کې نه دی.

په اوسني عصر کې د خلافت دولت تر تاسیس وړاندې د مسلمانانو پر پوځونو دفاعي جهاد فرض دی او د مکې واقعیت چې په هغه وخت کې د مسلمانانو پوځونه نه وو، زموږ له اوسني واقعیت سره او د دفاعي جهاد په پرتله

توپیر لري. دفاعي جهاد د دولت له تاسیس او د فتحې له جهاد څخه بېل دی. دغه هر یو عمل ځانګړی حکم لري، چې هر یو یې باید پر خپل ځای پلی شي. همدارنګه د فلسطین د ازادۍ لپاره جهاد دفاعي او فرض عین دی، چې په هر حال او چټکۍ سره باید ترسره شي، پرته له دې چې د امکاناتو کمښت او زیاتوالی په پام کې ونیول شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«المُسلِمُ أخُوالمُسلِمِ لَا یَظلِمُهُ وَ لَا یُسلِمُهُ»**

**ژباړه:** مسلمان د مسلمان ورور دی، نه ظلم پرې کوي او نه یې دښمن ته تلسیموي.

یو بل ځای رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«المُسلِمُونَ تَتَکَافَأُ دِمَاؤُهُم وَ یَسعَی بِذِمَّتِهِم أدنَاهُم وَ هُم یَدٌ عَلَی مَن سِوَاهُم»**

**ژباړه**: *د مسلمانانو وینې یو ډول دي او د هغوی تر ټولو ټیټ کس هم د ذمې حق لري او دوی د نورو خلکو (نامسلمانانو) پر وړاندې یو موټی دي.*

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«مَا مِن امرَئٍ یَخذُلُ امرأً مُسلِمًا فِی مَوضِعٍ تُنتَهَکُ فِیهِ حُرمَتُهُ وَ یُنتَقَصُ فِیهِ مِن عِرضِهِ إلَّا خَذَلَهُ اللَّهُ فِی مَوطِنٍ یُحِبُّ فِیهِ نُصرَتَهُ، وَ مَا مِن امرِئٍ یَنصُرُ مُسلِمًا فِی مَوضِعٍ یُنتَقَصُ فِیهِ مِن عِرضِهِ وَ یُنتَهَکُ فِیهِ مِن حُرمَتِهِ إلَّا نَصَرَهُ اللَّهُ فِی مَوطِنٍ یُحِبُّ نُصرَتَهُ»**

**ژباړه:** *هر څوک چې یو مسلمانان په داسې حال کې پرېږدي چې سپکاوی ورته کېږي او عزت یې لوټېږي، الله سبحانه وتعالی به یې په داسې حال کې پرېږدي چې نصرت ته یې اړتیا وي او هر څوک چې یو مسلمان ته په داسې حال کې نصرت ورکړي چې سپکاوی ورته کېږي او عزت یې لوټېږي، الله سبحانه وتعالی به په داسې حال کې هغه ته نصرت ورکړي چې ورته اړتیا یې وي.*

له شک پرته چې د فلسطین او غزې قضیه نه په فلسطین کې ده او نه هم په غزه کې او هېڅکله به داسې نه وي؛ بلکې له فلسطین څخه بېرون قضیه ده او هر مسلمان باید پر دغه حقیقت پوه شي او له دې پرته یوازې د خلکو دوکه کول دي او بس. له غزې څخه لاس اخیستل او وحشي غرب ته یې یوازې پرېښودل، په دې پلمه چې پخپله د غزې خلک یې چاره کولی شي، په الله سبحانه وتعالی قسم چې دا په حقیقت کې د هغه سبحانه وتعالی نافرماني او د غزې د خلکو یوازې پرېښودل دي.

غزې په رښتيا هم ثابته کړه چې عربي دولتونه يوازې د غرب نظامي اډې دي، چې د غزې په له منځه وړلو او له دې سيمې د خلکو په ايستلو کې هغوی تر غرب ډېر حريص دي. دغه دولتونه د يهودو د رژيم ملاتړ کوي، خپل برخليک يې د يهودو له برخليک سره غوټه کړی او په ښکاره او پټه د هغوی برياليې کېدو ته حريص او لېوال دي. هر هغه څوک چې د امريکا په نظامي ترون کې غړيتوب ولري، هېڅکله يې پر وړاندې نه درېږي؛ هر هغه هېواد چې د امريکا له اډو څخه ډک وي، هېڅکله به دښمني ورسره ونه کړي؛ هر هغه څوک چې له يهودو سره اړيکې عادي کوي او خپل ځان يې له هغوی سره د هوکړو پر ځنځير تړلی وي، هېڅکله به يې يرغل ته ځواب ور نه کړي.

لنډه دا چې دښمن ته ځواب ورکول او د مسلمانانو د خاورو او مقدساتو ازادول يوازې په خلافت پورې تړاو نه لري، بايد په هر حالت کې دښمن ته ځواب ورکړل شي او حکام بايد اړ ايستل شي چې پوځونه په حرکت راولي او يا بايد له واکه لرې کړل شي.

**الرايه جريده: ۴۷۸يمه ګڼه**

**ليکوال: الشيخ سعيد رضوان أبو عواد (أبو عماد)**

**ژباړه: بهير «وياړ»**